**ملګري ملتونه په افغانستان کې – مطبوعاتي اعلامیه**

**د ښځو نړیواله ورځ ۲۰۲۲**

**په افغانستان کې ملګري ملتونه د سختو بحرانونو په منځ کې د افغان ښځو او نجونو تر څنګ ولاړ دي**

**کابل، د ۲۰۲۲ کال د مارچ ۸ مه** - په افغانستان کې ملګري ملتونه د ښځو پر نړیواله ورځ، د افغان میرمنو او نجونو تر څنګ ولاړ دي، څکه چې دوی په زړورتیا او استقامت سره د جنسیتي نابرابرۍ او تبعیض په ګډون له ډېرو بحرانونو د عواقبو سره مخامخ دي.

پر وچکالۍ او اقتصاد رکود سربېره، چې په میلیونونو افغانان یې په پور او بشردوستانه اړتیا کې ډوب کړي دي په افغانستان کې ښځې په غیر متناسب ډول د جګړو د میراث له امله اغېزمنې شوې دي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې دیبرا لاینز وویل، "هغه څه چې موږ یې نن په افغانستان کې وینو، د ناورین بحراني کچه ده. هریو په دې هیواد کې له اوسني بحران څخه اغېزمن شوی، خو د ښځو او نجونو وضعیت په ځانګړې توګه د اندېښنې وړ دی، څکه چې د دوی حقونه او فرصتونو ته د دوی لاسرسي په زیاتیدونکې توګه ننګول شوی دی."

د عامه ژوند په ټولو برخو کې د افغان ښځو او نجونو بشپړاو مساوي ګډون د افغانستان د راتلونکې لپاره مهم دی. په ازاده توګه ښځې له ګرځیدو را ګرځیدو، کار، په عامه ژوند کې له ګډون او زده کړو محرومول، په لویه کچه د هېواد د اقتصادي پرمختګ مخه نیسي.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې دیبرا لاینز وویل، " افغان ښځو له موږ سره په خبرو کې، دنجونو د زده کړو پراهمیت، همدارنګه د لوړو زده کړو او د کار موندلو لپاره د راتلونکو فرصتونو پراړتیا خبرې کړي دي. د ژوند په ټولو برخو کې د ښځو او نجونو لپاره د برابر فرصت د ودې لپاره د ډېر څه د ترسره کولو اړتیا ده."

افغان ښځې د افغانستان لپاره یو لیدلوری لري او باید د هیواد د راتلونکې په جوړولو کې ورته فرصت ورکړل شي. په افغانستان کې ملګري ملتونه دافغان ښځو او نجونو د حقونو ساتنې او ودې ته ژمن دي. موږ لاهم په دې باور یو چې د هیواد په ټولنیز، اقتصادي او سیاسي ژوند کې د ښځو له فعالې ونډې او ګډون پرته دایمي سوله، بهبودی یا ثبات ناشونی دی.

* * *

د لا زیاتو معلوماتو لپاره په لاندې پته اړیکه ونیسئ:

**د ملګرو ملتونو د ښځو اداره**: olguta.anghel@unwomen.org

**یوناما:** spokesperson-UNAMA@un.org